# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
| --- | --- |



ژباړه : نثار احمد « ساپی » دکونړ پوهنتون دشرعیاتو پوهنځی محصل

١٧ جون ٢٠١٧

## اعتکاف

اعتکاف په لغت کې پدی معنی چه ځان بندول یا وخت تیرول په یو ځای کې سره عبارت دی په اصطلاح که یو انسان ځان د دنیوی مصروفیتونو او اړیکو څخه جدا کول او خپل فکر او عمل په ټول قوت سره د الله تعالی په عبادت مصروف کولو څخه عبارت دی اعتکاف د روژې د میاشتې په اخره لسیزه کې که مؤکد سنت دی کچیری په یو کلی که یوکس اعتکاف وکړ د نورو ټولو غاړه خلاصه ده

### داعتکاف د مشروعیت دلایل:

**١ـ قران کریم آیت شریف**: الله جل جلاله فرمایی. « وعهدنا الی ابراهیم و اسمعیل ان طهر بیتي للطایفین و العکفین والرکع السجود» ( سورة البقرة ایت ١٢٥)

ژباړه: او مونږ حکم ورکړو ابراهیم ته او اسمعیل ته چه تاسو پاک ساتی زما کور د پاره د طواف کوونکو او اعتکاف کوونکو او د رکوع او سجده کوونکو ته

**٢ـ احادیث د رسول الله صلی الله علیه وسلم** د عایشه رضی الله عنه څخه روایت دی چه ویلی دی« کان رسول الله یعتکف العشر الا واخر من رمضان حتی توفاه الله عزوجل » (یعني وه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د رمضان میاشتې په اخره لسیزه کې اعتکاف کاوه ترڅو چه الله عزوجل وفات کړ).متفق علیه.

همدارنکه د ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چه یی وویل « کان رسول الله یعتکف العشر الا واخر من رمضان» ( یعني رسول الله صلی الله علیه وسلم د رمضان د میاشتی په اخره لسیزه که اعتکاف کاوه )

### د اعتکاف د مشروعیت حکمونه :

اعتکاف د زړه مخنیوی د دنیوی امورو څخه او د نفساني خواهشاتو څخه ځان ساتلو ترڅنګ ددی باعث کیږی چه په عباداتو او اذکارو کی الله تعالی لوری ته ځانګړی توجه پیدا کوی

٢ـخپل کارونه الله تعالی ته د سپارلو ترڅنګ اودریدل دی د رحمتونو او برکتونو دروازی ته

### اعتکاف ډولونه:

واجب.چه یو کس پرځان نذر کړی وی مثلا ووایی کچیری په ازموینه که کامیاب شوم اعتکاف کوم دارنګه اعتکاف واجب دی .

**د واجب اعتکاف وخت:**

څرنګه چي د اعتکاف لپاره روژه شرط ده نو کم ترکم یو ورځ یی وخت ده

۲- مستحب: بغیر د رمضان میاشتي اخرې لسیزی اعتکاف هر اعتکاف چه په لومړی یا دویمه او یا په نورو میاشتو که وی مستحب ده.

۳- مؤکد سنت اعتکاف: د رمضان د میاشتي په اخره لسیزه کي که اعتکاف کول مؤکد سنت دی چه مسلمانان د هڅه وکړی چه عمل پری وکړی الله تعالی فرمایی. «ولا تباشروهن و انتم عکفون فی المسجد» یعني. مه ورنږدې کیږی ښځو ته هرکله چه تاسو معتکف یئ په جماتونو کې

**د اعتکاف د صحت شرایط**

د اعتکاف د صحت د پاره څلور شرایط ضروری دي :

۱- مسجد یعني پنځه وخت لمونځ به جماعت سره ادا کوی

۲- نیت

۳- دغتي بی اودسی څخه پاکوالی« جنابت.حیض او نفاس»

۴- په واجب اعتکاف که روژه شرط ده اما په مستحبو او سنتو که روژه شرط نده .

**لیکنه:** استاد الحاج داکتر امین الدین سعیدی «سعیدی افغانی»

ژباړه له فارسي ژبی پښتو ته: نثار احمد « ساپی » دکونړ پوهنتون دشرعیاتو پوهنځی محصل